مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پروفیسور عبدالخالق رشید ۲۰۲۲/۰۵/۱۲

# په هندکي د پښتو نامتو ليکوال او خواخوږي
# منورسینګ بترا د ابدي سفر په وير
# (۱۹۲۷ ـ ۲۰۲۱)

**سزا وار د هرستم د هرپيغور يم**
**چې مي يارپه سفرتللی زه په کوريم**

(حمید ماشوخیل )



د ۱۹۹۵ کال وروستۍ ورځې وې، نوی نهروپوهنتون ته راغلی وم، هوا مخ په يخيدو وه، هغه هم دډيلي هوا، وطن خوهم هغسې ولکه چې نن دی، يوه خوا پړانګ واوبله خوا پاڼ، دهندوستان ژوند، نوې ژوند، نوې ماحول، يوازې دوه تنه زده کونکي، په دريم منزل کې يوه کوټه چې له ختيزې هنداري يوازې دشنه ځنګله په منځ کې دقطب منارلوړې څوکې له لرې يوازې داتوان اوالهام را کاوه چې بايد ځان ټينګ کړم اوداهرڅه ستونزې چې له مشرانواستادانوچې يوازې يې وخت تيرکړی اويوه پاڼه پښتوليکنه هم نه ده ترې پاتې بايد په يوه سر، پرسرواخلم ... هرڅومره چې خپل چارچاپيرخالي ګورم، خواستاد مې ، علامه رشاد وياړلی عطايي صاحب ،هيوادمل صاحب اوآن دغه ځوان يون چې شپه ورځ يې هغه مهال پښتوته پرځان يوه کړې وه، دوی ټول مې سترګوته ودريږي چې ګواکي راته وايي :
ـ نوته هم هلته دهغوی غوندې آرام کيناستې ... ؟
بيرته دقطب منارلويي اولوړتيا ته وګورم آرام شم اودوو تنوشاګردانو ته چې ماښام محال راته راځي انتظار ...



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

په همدغه فکرکي وم چي وړه لورمي نازو په منډومنډو کوټي راننوته اوپه وارخطا سا يی زرزر ترخوله راوتل :
پلاره، پلاره ، هلته یوسیک بابا دی، سیک بابا تاغواړي... هوسیک بابا سیک ...
تردهلیزلاور وتللی نه وم چي سترګي مي په سیک بابا ولګیدي، زه پوه شوم چي څوک دی ؟ اوکوم سیک بابا؟ څکه چي اوونۍ مخکي یي یولیک زما دهرکلي په پارراليږلي و،خودايی نه وو راته ليکلي چي يوه ورځ به داسي یوناڅاپه زما لیدوته، زما پرمېنه هم دده قدمونه په نازاووياړسره لګيږی ...


Manohar Singh Batra
M-211, Greater Kailash-II,
New Delhi-110048
Tel.: 6436303
Date 19.2.96

محترم عبدالخالق رشتین صاحب
خدای دی ژوندی لره -

د ښاغلي زلمي هیوادمل له خوا دا رسولی یو کیسې دا ښکاري
دی چه ورکښی ستاسو د روغتیا احوال ښکاره شوېدی - ما توقع
لرله چه تاسو به زما سره رابطه قائمه کړئ - ما ته به یو
کیف رواستوئ او یا به ما ته ټیلیفون وکړئ - لاکن ستاسو
له خوا هیڅ نه دي راورسېدل شوي - هرکله چه فرصت لرئ
ما خبروئ - زما کره تشریف راوړئ او یا چیرته بل ځای
د لیدو امر وکړئ -
هیوادمل صاحب زما خوږ ملګری دی
او زه د افغانستان او د پښتو او پښتنو سره ډېره زیاته
مینه لرم -
د ډېرو یو خو کالو راهیسې زه د جواهرلال
نهرو د پوهنتون د پښتو د تدریس سره پوهنتان دالطف درم
نه د شاګردانو څخه امتحان اخلم -
ستاسو د ټیلیفون انتظار باسم -

په درناوی
منوهر سنګه بترا

کله مي چي دروازه پرانیسته را ته په خندا شو :
-ودې پیژندلم ، زه منورسینګ بترا ...
په غیږکي یي داسي کلک ونیوم چي ما فکرکاوه پلارمي له غزنی پرما پسي راغلي اوپه دغه اوږده مساپرۍاو بې دیدنی کي خپله خوږه مینه راکوي ...
میلمستون ته مي لاربنونه کړ، خو زړه یي ترهغوچي زما ماشومان اومیرمن ونه ګوري نا آرام و، د خوږو بسته یي زما میرمني ته ورکړه :
-دا یوڅه مټايی ده... میلمستیا نه ده ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

ما بترا صاحب په کابل کې په سمینارونو کې لیدلی و، مناسب قد، ښکلي څیره، خپله سیکي اوچته پګړۍ ...اوبوشانداره هندوستانی لیکوال اوشخصیت ...
خونن مې هغه په خپله تولـه ورتیا اواوچتیا سره په خپل مخکي لیده چې په خوږه اودرنه پښتوراته ګډ و :

**-افغانستان زما خپل کوردی ، پښتوزما مور دی ، زه یو رښتیانی پښتون یم ...**

دافغانستان حالت یې په خواشینی سره یاد کړاودهغه کابل په یاد یې چې ده په کې تریوه کال زیات درس ویلی وسترګې له اوښکو را ډکې شوې ... دخپلو نږدې یارانواواستادانو، علامه ګانو،حبیبی ، رشاد، رشتین شپون او هیوادمل چې ده ورسره پیژندل دژونداوکاروبارپوښتي وکړې ، د استاد روهی یاد یې وکړچې ناروغه و، ډیرورته اندیښمن و، څکه چې له ده څخه بې خدای پاماني تللي و، استاد روهي زما ورته ویلي وو چې هند ته راځي، څکه خویې زما د پیژندګلوی په اړه ډیرې پوښتنې ونه کړې، یوازې یې دغزني په اوریدوسره وویل :

- ماغزني هم لیدلي دی ...

منوهرسینګ بترا نیږدې نیمه پیړۍ په هند کې دپښتوژبې په برخه کې د آل انډیا راډیو پښتوڅانګې، چې په نړۍ کې لومړنی راډیووه چې ددویمې نړیوالې جګړې له پیل سره سم یې په پښتوخپروني پیل کړې له غړیتوب اومشرۍ را نیولې اوبیا دهند له ولس مشرشري زاییل سینګ سره ترهمکارۍ پورې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې، ده په پښتو، پنجابي، هندي اوانګریزي ژبوکې د پښتو، پښتونولی یا په بله وینا افغان اوافغانستان په اړه زرګونه پاڼې لیکنې وکړې، په سلګونو ملي اونړیوالوسمینارونو کې یې برخه واخیسته اوهلته یې دافغانستان اوهمداسې په څانګړې توګه د پښتونځوا اوپښتنودحق خود ارادت په پارونیاوې وکړې اوعلمی مقالې یې ولیکلې. دی د پاچاخان اوعبدالصمدخان اواجمل خټک له دوستانواوارادت مندانوڅخه و، دهغوی دمبارزې اوهمداسې دپاچاخان د نه زورزیاتې دفلسفې په اړه مقالو یې په هندي مطبوعاتوکې د پاملرنې وړلوستونکې درلودل، اود دافغانستان په اړه دده علمي اوادبي نظریاتوته تل د اهمیت په سترګه کتل کیدل .




له ښئ خوا: محترم مسعودخلیلی، پوپلزایی صاحب ، منوهرسینګ بترا صاحب ، شهرستانی صاحب اوعابدي صاحب
دافغانستان سفارت، نوی ډیلی

بتراصاحب نه یوازې دهندپه مطبوعاتوکې دیوه پیژندل شوې افغان پوه په توګه څانګړې ځای درلود،بلکې هغه له نړیوالوراډیویی اوتلویزیونی خپرونوسره هم دافغانستان او همداسې دهنداوافغانستان دتاریخي، سیاسي اواقتصادي اړیکوپه اړه هم پرله پسې مرکې کولې اوپه بحثونوکې یې برخه اخیسته چې موږ یې له امریکا غږ، بی بی سی ، آل انډیا راډیو، افغانستان راډیواوتلویزیون څخه دنظریاتودتبادلې شاهدان یو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ



له ولی عبدالله سره دمرکې په حال کې (بی بي سي )

بترا صاحب ترلسوکالوزیاته موده له ماسره دنهروپوهنتون په پښتوڅانګه کې چې لاهم په ډیپلومه پړاوکې وه همکارو، په اونۍ کې به دوې اویا درې ورځې سره له دې چې زیاتې بوختیاوې به یې درلودې خوبیایی هم زه یوازې پرنښودم اوخپله همکاري یې کله هم ونه سپموله، هغه زده کونکوته په هندکې د پښتوژبې په اړتیا اووړتیا باندې لکچرونه ورکول. دی یوازنی څوک وچې په ډیلي کې په هغوشپو ورځوکې زموږ له پوهنتوني شرایطوسره سم د تدریس له پاره وړاومنل شوی و. په دغه اوږده موده کې سره له دې چې دده کورله پوهنتون څخه لرې و، خو بیا یې هم یوه ورځ نه د حق الزحمې اونه هم دنوروامتیازونودکمي اوزیاتي غوښتنه اویادونه وکړه. یوازې یوازې له پښتوسره دده مینه وه چې دهغې له مخې به یې ځان په خپل وخت ټولګي ته را رساوه اومنت یی تم و. بترا صاحب دسخاوت اولوریني یوخاموش سمندرو چې یوازې په مینه اولورینه کې سړي ته لکه هنداره داسې ښکاریدای شو اوبس ...

د بترا صاحب ژوند دهندوستان دمعاصرتاریخ له سختوشپوسره تړلی و، ده دهندوستان دویش پرمهال دسختوحالاتواوبدمرغیوپه توپان کې هندوستان ته په داسې حال کې هرڅه ترې په پاکستاني پنجاب کې پاتې شول هندوستان ته راغی، یومهال یې کیسه راته کوله چې:« په اویا یموکالوکې پاکستان ته یوسفر راته پیداشو، ویل یې چې له رسیدوسره سم مې تکل وکړچې یوځل خپل هغه کوراومالت وګورم چې هلته مې سترګې غړولي وې اوهلته له کورنۍ سره په کې اوسیدلي وم ، دخپل کوراومالت ننداره مې په سخت اودردیدلي حالت کې وکړه، کورمولاهم په هم هغه شان چې زه اوکورنۍ مې په کې اوسیده دنګ ولاړو، په څیرڅیرمې هرڅه ته کتل خوله بده مرغه چې زما د پلاراونیکه کورچې نه موخرخ کړی واونه مویې دخرڅولواوپرېښودلونیت درلود اوس زموږ کورنه و؟ اوس مې یوازې دومره حق درلود چې هلته مې یوازې دموراوپلارد روحونو ښه ننداره وکړم اوهغه داستاد اولمیرسندره له ځان سره ورته زمزمه کړم :

**بهانه به سیل دګلوګړم څه نوربه وګورم**
**اوته چې په اوسې هغه کوربه وګورم ... »**






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ

بترا صاحب له اوږدې کمزورۍ وروسته د ۲۰۲۱ کال د اپريل په ۲۱ نېټه دنوي ډيلي په ګريټرکلاش (دويم ) کې له خپلې ميرمني چې هغه هم په آل انديا راديوکي د پنجابي ژبې نطاقه وه څومياشتې وروسته له دغې نړۍ څخه سترګې پټې کړې... اوپه هندکې پښتوژبې خپل يوبل لوی ليکوال اولوی خواخوږی چې د هيرولواوله لاسه ورکولوڅوک نه و، له لاسه ورکړاوله موږسره يې په آرامه خوپه ناخبرې کې خدای پاماني وکړ ...
دغه څوبيتونه دده روح ته ډالۍ شوي :

## بترا ته!

**ته مې په پښتو پتنګ شوې وياړد زماني بترا**
**ستورى شوې دمينې دخوشحال دهنګامې بترا**
**سختې دغموشپې دې يوته په پښتوسريي کی**
**غم دې راته مه وای دناتک له قبيلې بترا**
**زه په وينوسوروم تا ژړل را ته په شپو شپو**
**وی دی دا څه غم دی دبی ننکه سپيتانې بترا**
**کفروغيرت کې ستا د دهر مايوسي هميش**
**ولي دې لمنې ته دربولې سرې لمبې بترا**
**آه سرکښ هلمند ګوره اټک نه مرورګرځي**
**څه بلاوهلې نن بچې د زرغونې بترا**
**مات شود پښتونيکانې سورطلايي نوکی بيا**
**دغه دچپ جې د ښکلې مينې شکرانې بترا**
**هيربه رانه نه شې ستا لفظونه ليکنې خواږه**
**هغه د پښتوپه کاله مستې ترانې بترا**
**تيرې به شي دغه دناتارخونړی سرې ورځې**
**دغه د سرواوښکو او سرو وينوفوارې بترا**
**تا په پښتومورباندې د وياړپګړی ترله تل**
**څوک به يې هيرکاندې ستا پرتم ستا ډمامې بترا ؟**

**د بتراصاحب ياد دې تلپاتې وي**
**رشيد**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ